بېځایه به نه وی که دلته دانډراګانډي» دخاطراتو» چې په ایران کی دحقیقت من» په نامه ژباړل شوی اوچاپیدلي دی، یوی واقعي ته اشاره وکړو.

انډراګانډي امریکاته دخپل یوه سفرپه ترڅ کی دامریکا دجمهوررئیس په وړاندې داسرائیلوپه باب دهغه له موضعګیری څخه ددفاع په پوښتنه کله چې دامریکا جمهوررئیس ته دپاکستان دورته (مشابه) دریځ یادونه کوي، دامریکا دجمهوررئیس له خولی داسی لیکي: «پاکستان ته چې ووایو چې په خپل سیاست کې تغییرراوله، راول پیپي: خوځندبیاداسی نه دی، د پاکستاني مقامات، لکه چی وموویل دافغان رهبری په باب دجراتمندانه دریځ دغوره کولو له لاری نه یوازی خپل بایلل برم اوپرتم په لاس راوړی، چی دافغان مجاهداواولس اوګرداسلامي امت زړه هم لاس ته راوړای شي. اوداهغه څه دی، دکوم دتحقق له پاره چی پاکستان تنګنایق کړای شویدی.

نواوس دادپاکستانی مقاماتو کاردی، چی څرنګه دافغان رهبری په باب راپیداشوی بی باوري اوبی اعتمادی پرباوراواعتماد بدلولای شي.

د روس او امریکا فیصلې نوري په افغانستان کې نه چلیږي

ترتیب: احمدشاه «احمدي»

دشنبې ورځ د ۱۳۶۹ ه ش کال دغبرګولي درلسمه نیټه، څرنګه شهادت:

دحزب اسلامي افغانستان امیر مجاهد ورور «حکمتیار» دحاجي صاحب خان کوچي دخبیدوپه مراسموکې ددلته جهادي مشر شخصیت په باب اودهیواد دجهاددنویوجریاناتواوپیښوپه رابطه یوه تفصیلي اوغالتانه وینا واوروله چې د برخوالو په تاوده هرکلي سره بدرګه کیدله.

دادی ستاسو درنولوستونکو پام ددې لارښوونکي وینا پوره متن ته رااړوو:

الحمدلله وکفي وسلام على عباده الذین اصطفی فاعوذبالله من الشیطن الرجیم، بسم الله الرحمن الرحیم

الله الذي خلقکم ثم رزقکم ثم یمیتکم ثم یحییکم هل من شرکاءکم من یفعل من ذالکم من شيء سبحنه وتعالی عما یشرکون ط

صدق الله العظیم

زمادایمان اودعقیدې ورونو! الله جل شانه فرمائي چې خدای هغه ذات دی چې تاسویې پیداکړي، بیاهغه ستاسو لپاره درزق اوروزي انتظام وکړ، تاسوته یې روزي درکړه، بیا هغه دی چې دتاسو دمرګ فیصله کوي اوبیامودوباره راژوندي کوي. آیاپه دغوڅلوروخبروکې داسې څوک شته چې له خدای سره شریک وي، یعني دانسان په پیدایښت کې، بیا هغه ته په رزق اوروزي ورکولو کې، بیا دهغه دمرګ په فیصله کې اوله مرګ له بعدیې دوباره ژوندون کې، آیادځمکې په سر، په دې کائناتوکې داسې څوک شته چې هغه دې له خدای سره شریک وي؟ «هل من شرکاءکم من یفعل من ذالکم من شيء» آیا ستاسو له دې شریکانو څخه چې له خدای سره الوهیت اوربوبیت کې شریک کړی داسې څوک شته چې ددې کارونو نه یوکاروکړي؟

«سبحنه وتعالی عمایشرکون ط» پاکي ده الله لره اواوچت دی له دې نه چې هغوی یې له الله سره شریکوي. ددې آیت معنی داده چې په څلوروخبروکې له خدای سره هیڅوک شریک نشته، داکارونه الله جل شانه ځان ته مختص کړي دځمکې پرسر یې هیچاته ندي سپارلي. دانسان پیدایښت، هغه ته رزق اوروزي ورکول، بیادهغه دمرګ فیصله، بیادهغه دوباره ژوندون داصرف خدای (ج) کوي، انسان دخدای په اراده دنیاته راځي اوبیا په معامله نیټه اوپه هغه ځای کې چې الله جل شانه ورته ټاکلی دروح امانت دوباره خدای ته تسلیموي. قرآن عظیم الشان فرمائي هرڅوک به دخپل مرګ ځای ته په خپلو پښو درومي، په کوم ځای کې چې به هغه په اړخ پریوځي، چیرته چې هغه خپل روح دوباره خدای ته تسلیموي هغه ځای ته به انسان په خپلوقدمو ورودرومي، هغه نیټه نه وروسته کیږي، نه دمخه کیږي، قرآن فرمائي هغه څوک چې ګومان کوي دهغه مرګ په پیسو اوجوادڅوړو پورې تړلی دی، دهغه دا تصور کافرانه دی مسلمانان دې له دې نه ډډه کوي. الله جل شانه فرمائي: ای دایمان خاوندانو دکافرانو په شان مه کیږئ چې دخپلو ورونو په باب یې وویل کوم چې غزاته تللي اوهلته له کومې پیښې سره مخامخ شوي چې که هغوی جهادته نه وای تللي، په سفرته وای تللي نو هغوی به په قتل نه رسیدل اونه به مړه کیدل. الله جل شانه فرمائي چې خدای غواړي دا خبره دهغوی په زړونو کې دحسرت باعث شي اوپه دې ترتیب الله هغوی تعذیب کړي، که نه، نو دمرګ اودژوند فیصله یواځې الله کوي «والله یحيي ویمیت» حال داچې الله دی چې دژوند فیصله کوي اودمرګ فیصله کوي، دمرګ اود ژوند اختیار له الله سره دی، دهغه فیصله الله جل شانه کوي.

موږ داسلام لپاره یونیم ملیون شهیدان ورکړل په لکونو نورمعیوب شول، لاس پښې یې قطع شول، پنځه نیم ملیونه مو مهاجر شول اوددې ټولو سره سره پورې داجهاد روان دی، هره ورځ په لسهاو اوپه سلګونو نورپه شهادت رسیږي اودخدای په لارکې یې وینې توییږي. خوالحمدلله زمونږ ولس ددې ټولو ستونزو اوکړاونو په وړاندې صبرکړی.

اودمزیدې قربانۍ لپاره تیاردی، زندانونه یې ګاللي، دهجرت ستونزې اوکړاوونه یې ګاللي، دزامنو، ورونو اوخپلو خپلوانو دشهادتونو په وړاندې یې صبر کړی خوله اسلام نه په کم شي ندي راضي شوي اوکفرته ندي تسلیم شوي انشاءالله هغه ورځ به ډیره ژرراځي چې خدای په افغانستان کې زمونږ ددغو بایمانه مجاهدینو په لاس

دحزب په خلاف داویلې کیږي چې هغه اقتدار غواړي انحصارطلبه دی پخپله خواکې بل څوک نه مني ،دنورو دختمولو کوشش کوي ،موږ اعلان کوواوټول ولس ته ددې تضمین کووچې انتخابات دې وشي ،منتخبه شورا دې جوړه شي ،دې منتخبې شورا چې په چاهم اعتماد وکړموږ دهغه حکومت منو.

اسلامي حکومت قائم کړي.

ددغو کسانو له جملې نه چې په دې لارکې یې ستونزې او کړاوونه ګاللي یوهم حاجي صاحب خان مرحوم وچې الله جل شانه د هغه ته مغفرت وکړي. هغه زندان ته ولاړ، یونیم کال یې په زندان کې تیرکړ، هجرت یې وکړ، په جهادکې یې لویه برخه اوونوه وه، الله جل شانه دهجرت ثواب ورکړ اوبالاخره هغه خپل روح په سنګر کې، په داخل دافغانستان کې بیرته الله جل شانه ته تسلیم کړ. حاجي صاحب زمونږ دلویو اومخلصو مشرانو څخه و، دهغه په تلو یواځې دسلطانخیلو په قوم کې نه، په احمدزیو کې نه، بلکې په ټول افغان ولس کې په مهاجرینو اومجاهدینو کې لویه خلا راپیداشوې. دده په شان مشران په افغانستان کې ډیرکم دي. که ووایم چې نشته ډیرو ته به مبالغه معلومه شي. خو حقیقت دادی چې داسې مشران ډیرکم دي ماچې دلومړي ځل لپاره څوکاله دمخه له حاجي صاحب سره لیدل او دهغه دی ملاقات په نتیجه کې زماپه زړه کې دهغه په نسبت کومه مینه اواحترام راپیداشوی دهغه دسپینو خبرو په وجه، دهغه دصداقت اواخلاص په وجه، دابه هیڅکله هم هیرنکړم. باوروکړئ چې دافغانستان په ټولومشرانو کې چې زماله چاسره زیاته مینه وه اوپه زړه کې مې ورته ډیرزیات احترام و هغه حاجي صاحب خان و، وجه یې هم داوه چې هغه یومخلص، سپین اوصادق مشرو، هغه له چاسره دوکه نکوله اوپخپله خبره ټینګ ولاړو. هغه په بندیخانه کې دحزب اسلامي سره تعهدکړی او وجه یې هم داوه چې هلته یې دحزب اسلامي په زرګونوکسان ولیدل چې بندیان دي، دهغوی دقرآن تلاوت، ذکر، لمونځونه، اخلاص اوتقوا دې تشویق کړی چې دحزب اسلامي سره تعهدوکړي اوچې کله هغه هجرت کړی نو دحزب دفتر ته راغلی اوماته یې همداکیسه کړې چې دڅه لپاره هغه حزب اسلامي ته راغلی په دې اوږده موده کې سره ددې چې په نوروتنظیمونوکې مشرانو ته ډیرډیرقدرونه ورکړ شوي دي هرڅه یې ترلاسه کړي، ول هغه په محرومیتونوکې صبرکړی او داپې خوښه ګڼله چې خپل هجرت اوجهاد خرڅ نکړي او هجرت اوجهادته یې تاوان ونه رسیږي، ترڅو پورې هغه ټینګ پاتې شوی، دوه ورځې دمخه ماله هغه سره دنځصي په لمونځکې ولیدل اوتقریباً یونیم ساعت ماله هغه سره ملاقات درلود، ول هغه ځای نه رخصت شو او لوګرته لاړ، داالله جل شانه به همداخوښه وه چې دهغه روح په داخل دافغانستان په سنګرکې قبض شي اودا ثواب هم دهغه په برخه شي. زما دعا داده چې الله جل شانه دې حاجي صاحب مرحوم زمونږ دجهاد دشهداوپه زمره کې حشرکړي، الله دې دهغه دزندان تکلیفونه، هجرت اوجهادقبول کړي اوخدای دې زمونږ قوم ته همدغسې مشران ورپه برخه کړي. داسلامي انقلاب معنی داده چې صالح مشران دخانانو اوقوم پلورونکو مشرانوځای ونیسي، هغه مشران چې دقوم خدمت کوي ولس ته خرڅوي ترڅو چې دخانانو اوقوم پلورونکو مشرانو ځای مخلصو اوصادقو اومجاهدومشرانوته دې نیول اسلامي انقلاب نشي راتلای.

داسلامي انقلاب معنی داده چې صالح مشران دخانانو اوقوم پلورونکو مشرانوځای ونیسي هغه مشران چې دقوم خدمت کوي ولس نه خرڅوي ترڅو چې دخانانو اوقوم پلورونکو مشرانو ځای مخلصو ، صادقو اومجاهدومشرانو ته وي نیولي اسلامي انقلاب نشي راتلای .

موږ دغسې مشرانوته ضرورت لروچې خدای ته هغه کړی آخرت ته هغه کړې اوخپل دنیاته شادخدای درضا لپاره، دخپل اخروي سعادت لپاره هرې قربانۍ ته تیاروي. لکه چې پیامبر علیه السلام فرمائي چې دقوم مشر، دقوم خادم دی. موږ دغسې مشرانوته ضرورت لرو چې په قوم باداري نه کوي، دقوم په سرتجارت نکوي. خپل قوم نه خرڅوي. کله په نجیب، کله په روسانو، کله په امریکائیانوباندې هغه دخپل قوم مخلصانه اوصادقانه خدمت کوي، موږ دغسې مشرانوته ضرورت لرو. دهمدغسې مشرانوله جملې نه یوستر مشرنن له موږنه بیل شوی. الله جل شانه ته موسوال دی چې داخلا ډکه کړي، زمونږ قوم ته همدغسې صالح اومخلص مشران ورپه برخه کړي. الله جل شانه دې قوم ته دحاجي صاحب خپلوانوته صبراواجرورپه برخه کړي.

ورونو! موږ دغسې صالح مشران، صالح اومخلص مجاهدین، دخدای په لاره کې دشهیدانوپه حیث ورکړي، اوس زمونږ دجهادآخري پړاودی، هغه شیبې رارسیدلې چې ددې جهادپه هکله به وروستۍ فیصله کیږي، څوګومان مه کوئ چې داوروستۍ فیصله به روس اوامریکا کوي، یابه په ماسکو کې کیږي اویابه په واشنګټن کې، نه نه ددې فیصله به الله جل شانه کوي. خدای به زمونږ ددې یونیم ملیون شهیدانو وینې نه ضایع کوي، خدای شکوروړي اوهیڅکله دخپلومومنو اومخلصوبندګانو هیڅ یوه قرباني نه ضایع کوي. «ان الله لایضیع اجرالمحسنین وان الله لایضیع اجرالمؤمنین» دنیکو کارانواومؤمنانو پاداش اواجر نه ضایع کوي. انشاءالله په افغانستان کې به دمجاهدینوپه لاس اسلامي حکومت جوړیږي کوم چې روس اوامریکا یې نه غواړي، دواړه داسلام دښمنان دي، یوهم دانه غواړي چې دمجاهدینو په لاس په افغانستان کې اسلامي حکومت قائم شي. خواسلامي حکومت به جوړیږي. تاچې دهغه لپاره قرباني ورکړې اووینې دې ورکړې، ته چې زوی او ورور دې داسلام لپاره شهیدشوی نه به ترهغه وخته پورې خپله وسله پرځمکه نه ږدې، مورچل به نه پریږدې، جهادته به لاس نه اخلې ترڅوچې په افغانستان کې داسلام بیرغ نه وي اوچت شوی اویو بشپړاسلامي حکومت نه وي قائم شوی او داسې چاته دحکومت واګې نه وي سپارل شوي چې هغه دجهادپه دوران کې ستاپه څنګ کې ودریدل اوپه جهادکې یې برخه اخیستې څوک چې ددې جهادپه دوران کې یې ته پریښې یې اودملا هیوادپه آزادۍ کې یې برخه نه ده اخیستې داسلام غم ورسره نه و، ستاد یتیم، دکونډې، دشهید، دزخمي غم ورسره نه و، دجهادپه دې دوراں کلونو کې یې ستادیتیم په سر لاس رانکش نه کړ، نه یې ستادزخمي اوښکې پاکې کړې، نه یې ستادمهاجر تپوس وکړ، هغه سپاته هم، ستاپه فکراوخیال کې ندي هغه په نوررلول، هغه روس اوامریکا تاته راولي څوانشاءالله اوس ددې وخت تیرشوی چې افغانانوته دې له بهرنه څوک حکومتونه جوړکړي، دنجیب اودببرک په شان دې څوک په خپلوټانکونوکې راولي اوپرافغان ولس یې دې وتپي، ددې وخت تیرشوی، اوس به زمونږ دزړورواوبایمانه مجاهدینو په خوښه حکومت جوړیږي. له بهرنه لدې نه پس څوک حکومتونه نشي جوړولای. اوس افغانستان هغه دپرون ورځې افغانستان ندی چې روس په هلیکوپترکې ورته ببرک راولي اویا غرب دشاه شجاع په شان څوک په دې ولس تحمیل کړي، داوخت نور تیرشوی. ترڅو چې په افغانستان کې زمونږ دمسلمان ولس په خوښه یواسلامي حکومت نه وي جوړشوی داجهادبه جاري وي، دنجیب دحکومت آخري شپې ورځې دي. همدي دروس اوامریکا ګډسازش هغه ته کړې دی روس اوامریکا داغه لوښتل چې دروسي پوځونو دوتلوسره سم دې دنجیب حکومت نسکورشي اودمجاهدینو اسلامي حکومت دې په افغانستان کې قائم شي. ددوی ګډه فیصله داوه چې تریوې مودې پورې باید دنجیب حکومت پخپل حال وساتي، جنګ ته ادامه ورکړي، په داخل دقوم کې فتنې رااوچتې کړي، اختلافات راپیداکړي، اسلامي تنظیمونه تضعیف کړي، ویې ټکوي، بدنام یې کړي ولس ته داوښيي چې دادی مجاهدین نشي توانیدای چې دکابل رژیم راوپرځوي، نسکور یې کړي. باید جنګ اوږدشي، دوام وکړي، ولس له جنګه نه ستړی اوستومانه شي. ددغو تنظیمونو اعتبارپه قوم کې او ولس کې ختم شي کوم چې داجهادیې شروع کړی، قوم یې راپورته کړی، روس ته یې ماتې اوشکست ورکړی، ددغوتنظیمونواعتبارباید په قوم کې ختم شي. ولس دې ته تیارشي چې روس اوامریکاپه ګډه دافغان ولس لپاره فیصله وکړي او په دوی کې ددې توان اوطاقت نه وي چې ددې مقابله وکړي، باید په قوم کې اختلافات راپیداکړي، دپښتون اوتاجک ترنامه لاندې دغلجي اودراني ترنامه لاندې، په غلجي کې دمختلفوپښنو او قوم ترمنځ، دشیعه اودسني ترنامه لاندې داقوم باید ټوټې کړي، یودمذهب ترنامه لاندې، بل دقوم ترنامه لاندې باید په دې ولس کې تفرقه اونفاق راپیداکړي که دادواشنګټن اودماسکو ګډسازش نه وای تونجیب به لاپخوا ختم شوی وو. په نجیب کې هیڅ ندی پاتې، دهغه خپل پوځ هم دهغه پرخلاف رااوچت شو.

هغه په خپل پوځ هم اعتمادنلري، هغه په خپل حزب هم له دینه پس باورنلري. باوروکړئ چې که دروس اودامریکا ګډ سازش نه وای نودروسي پوځونو دوتلونه پس نجیب دڅوورځولپاره هم نشوپاتې کیدای. موږ ته یې پیغامونه رالیږل، هغه دیته تیاروو چې مجاهدینو ته تسلیم شي، شخصاً ماته یې په باربارپیغامونه رالیږل ارمرکي یې رالیږل. په همدې خبره چې هغه

موږ په انتخاباتو اصرارکوو ، ددې لپاره چې داظلم اوجفا ګټو، چې حکومت دې دملت له خوښې نه پرته دملت رایې ته له رجوع نه پرته دپردیو په خوښه ،یادڅومحدودو کسانو په خوښه جوړشي .

تسلیمیدوته تیاردی ول روس او امریکاپه شاتپولو چې صبروکړه وارخطاکیږه مه. موږچې کله ولیدل چې داسلام دښمنان موږ نه پریږدي چې دجهادپه میدان کې اوجهاد له لارې دنجیب حکومت راوپرځوو، مجبورشوو له لاراختیار کړو. په پوځ کې موکارپیل کړ. دپوځ هغه افسرانو ته چې له جنګه نه ستړي وو اوغوښتل یې چې له مجاهدینو سره یوځای شي، هغه موتشویق کړل په دې خبره چې نجیب دجګړې ددوام باعث دی ترڅو چې دنجیب حکومت نه وي نسکورشوی افغانستان کې سوله نشي تامینیدلای. پوځ دې دکابل رژیم نسکورکړي، بیادې دپوځ دهغه افسرانوچې دخلق دحزب غړي ندي اودکابل دښارخوا دمجاهدینودقوماندانانو په شمول یوه مشترکه شوراجوړه شي، دادې دکابل واګې په لاس کې ونیسي، بیا دې په شپږومیاشتو کې انتخابات وشي اوقدرت دې منتخب حکومت ته انتقال شي. تاسوولیدل چې دپوځ افسران صاحبمنصبان دنجیب په خلاف راپورته شول، دهغه قصریې بمبارکړ، دحزب دمرکزي کمیټې دفتریې بمبارکړ، دنجیب دحکومت دټولو مدافع قطعاتو مراکزیې بمبارکړل اوبالاخره دروسانو دمداخلې په وجه، دروسي الوتکو دبمبارد په نتیجه کې اودسکوډ میزائیلونو دذریعه داانقلاب وځنډید، دهغه کامیابي وځنډیدله.

داسې ګومان مه کوئ چې دادپوځ اقدام ناکام شو حقیقت دادی چې په دې پاڅون ددې په شان نوروالداماتو ته لاره هواره کړې. نن دپوځ هرافسرمطمئن دی چې کولای شي دمجاهدینو په څنګ کې ودریږي، مجاهدین هغوته پناه ورکوي. له هغه نه انتقام نه اخلي. دنجیب ویره له همدې نه ده چې ددغسې نوروپاڅونونو لپاره لارهواره شوې.

داتیره هفته په کابل کې دیوبل دغسې پاڅون اقدام شوی چې متأسفانه ګڼ شمیر نورافسران نیول شوي. داتیره هفته، له هغه اقدام نه لاڅومیاشتې ندي تیرې شوي وربوسي دارشو. دجدي میاشتې نه تراوسه پورې ددې اقدامه پوځ کړي چې دیوملګ دپوځ داحالت وي.

تاسې کولای شئ چې ددې نه قیاس کړئ چې دې رژیم ته نورڅه پاتې دي؟

جدي، دلو، حوت، حمل، ثور، جوزا په پنځومیاشتوکې دری اقدامه دپوځ کیږي اوپه زرګونوافسران نیول کیږي اوزندان ته ځي. ددغو نیونوپه وجه دپوځ دمزیدواقداماتومخه څوک نشي نیولای. دکابل درژیم آخري شیبې دي، دهغه عمرنورپای ته رسیدلی، نن روسانوهم داخبره منلې چې دنجیب حکومت دې په یوبل حکومت باندې بدل شي یوموقت حکومت دې د نجیب دحکومت ځای ونیسي، بیادې عام انتخابات ترسره شي، دروسانو صرف یوشرط دی چې په دې انتخاباتوکې به دنجیب ډله هم برخه اخلي، نجیب هم بایدبرخه واخلي.

نورهغوی پوهیږي چې دنجیب حکومت بقانلري هغه به ختمیږي. زمونږ موقف دادی چې دنجیب حکومت به خامخا ختمیږي، ترڅو چې داحکومت نه وي نسکورشوي مجاهدین دېته تیارندي چې خپله وسله پرځمکه کیږدي اواوربند ومني، بیابه عام انتخابات ترسره کیږي اوقدرت به منتخب اسلامي حکومت ته انتقالیږي.

ورونو! موږ همداوایو، دغه قوم چې دهیوادد آزادۍ لپاره یې قرباني ورکړې، ددوی دوینو په قیمت ددنیالوی استعماري قوت له ماتې اوزوال سره مخامخ شوی هیڅ چادی ګومان نشو کولای، چې روس دې له زوال سره مخامخ شي اوروس ته دې داټول داخلي ستونځې ترې راپیداشي، په شرقي اروپاکې دې دهغه تسلط ختم شي، په محکوموریاستونو کې دې هغه ته د آزادۍ قیامونه پیل شي، یوپه بل پسې دې خپله آزادي ترلاسه کړي چادې خبرې ګومان نشو کولای، ول الله جل شانه ستادشهداوانتقام له هغوی نه اخلي. نن خلک په دې ویره کې دي چې مبادا روسیه کاملاً ختمه نشي او متلاشي نشي. موږ غواړو دغه قوم چې دقربانیو په نتیجه کې یې ملک آزادشوی، روسي پوځونه یې له افغانستان نه وتلوته مجبورکړي، راتلونکی حکومت دې ددوی په خوښه جوړشي، باید انتخابات وشي، له مجاهداو مهاجرنه تپوس وشي، دهغوی دخوښې منتخبه شورا جوړه شي، دغه شورا چې دټول افغان ولس دټولو پرګنو اوقومونونمایندګي کوي داپه دافغانستان لپاره اساسي قانون جوړوي، هغه دملک لپاره زعامت اومشرټاکي، په دې ترتیب به راتلونکی حکومت جوړیږي موږ په انتخاباتو اصرارکوو، ددې لپاره چې داظلم اوجفا ګټو چې حکومت دې دملت له خوښې نه پرته دملت رایې ته له رجوع نه پرته دپردیو په خوښه، یادڅومحدودو کسانوپه خوښه جوړشي، موږ نه غواړوچې له دې نه پس دې پرافغان ولس باندې یوخاندان حکومت وکړي نه غواړو چې یوخاص قوم دې په افغان ولس باندې حکومت وکړي، دانه غواړوچې دکودتاګانوله لارې دې قدرت له یوه لاس نه بل لاس ته انتقال شي، داسې نه چې بیا په اساسي قانون کې ولیکل شي چې پاچائي او تخت وتاج دنادرخان دکورنۍ حق دی، که دهغه په کورنۍ کې ناریته نه وو نو دهغه لورهم دتخت وتاج وارث ګرځیدای شي، دانه منو چې یوخاندان دې یایوه کورنۍ دې پرافغان ولس باندې حکومت وکړي.

غواړو چې داقتدار په سر دکشمکش مخه دتل لپاره وتړل شي، بیاد اقتدارلپاره دافغانانوپه منځ کې نوری نشي، بیا په زوره قوم باندې حکومتونه ونه تپل شي. چې ولس یامجبوروي سرټیټ کړي، یاوسله راواخلي غروته وخیژي، بیا انقلاب اوجنګ وي، نه! لږ ته پس به حکومتونه دملت په خوښه بدلیږي، دملت په خوښه به جوړیږي، موږ همداغواړو.

څومتاسفانه نوربیادامریکا اوروس فیصله ته منتظر دي چې حکومت به دوی ورته جوړوي اویا داغواړي چې وزارتونه دې ددوی ترمنځه مساویانه وویشل شي، لکه تیرموقت حکومت چې دی، په تنظیمونودې مساویانه وویشل شي، بیا دهغه هرتنظیم مشرخپل خپلوان، زوم کابینې ته معرفي کړي اوپه دې ترتیب دې حکومت جوړشي داسې حکومت خوموږ نه جوړکړو، تاسوولیدل چې ددې حکومت نه څه جوړشول، هغه څه وکړل؟ ماته ووایئ، مهاجرینوکې یې څه وکړل؟ اوپه جهادکې یې څه وکړل؟ تاسوددغه موقت حکومت کوم کارلیدلی؟ دمهاجرینوڅه خدمت یې کړی؟ په جهادکې یې څه برخه وه؟ هغه زمونږ کوم مشکل حل کړ؟ ستا کوم انتظارترسره شو؟ ستاله ستونځواوکړاوونو نه دې حکومت کوم څه راکم کړل؟ هغه حکومت چې دپېښورپه کرائي حویلیوکې دکالمئ په سروې اوټول دنیاوایي چې دانااهله اوبې کفایته حکومت دی، موږ خوداڅیصله کړې وه چې داحکومت به دیوې میاشتې په منځ منځ کې موږ داخل ته انتقالوو، آزادومنطقوکې به داحکومت جوړوددې لپاره موږ وجوړکړي چې په پیښورکې به په کرائي حویلیوکې پاتې کیږي، موږ خودلسې حکومت جوړکړی دی نه

باوروکړئ چې که دروس اودامریکاګډ سازش نه وای نودروسي پوځونودوتلو نه پس نجیب د څوورځو لپاره هم نشوپاتې کیدای موږ ته یې پیغامونه رالیږل ،هغه دیته تیاروو چې مجاهدینوته تسلیم شي .

زمونږ مشکلات حل نشول، موږ په یوقوي اوموثر حکومت ته ضرورت لروچې زمونږ ملک اداره کړي، دفتنومقابله وکړي. له هرې خواته ناولي لاسونه رااوږده شوي، موږ ته فتنې راپیداکوي، زمونږد ملک اودولس دتجزیې کوشش کوي، دقوم اوژبې په بنیاد، دجنوب اودشمال په اساس، دشیعه او سني په اساس، دپښتون اوتاجک په بنیاد، دشرق له خوانه هم، دغرب له خوانه هم، له هرې خواته دښمنانوناولي لاسونه دافغانستان خواته رااوږده شوي، ددې فتنومقابله یوقوي حکومت کولای شي، چې ټول ولس دهغه ترشاولاړوي، موږ همداغواړو.

ورونو! دحزب اسلامي خبره همداده، انتخابات دې وشي، یوه قوي اومقتدره شورادې جوړه شي، داقوي اومنتخبه شورا چې دټول ولس نمایندګي کوي دادې دملک لپاره اساسي قانون جوړکړي اودادراتلونکي حکومت جوړکړي. په کوم چاچې دغې شورا اعتمادوکړ موږ دهغه حکومت منو.

دحزب په خلاف داویل کیږي چې هغه اقتدارغواړي، انحصارطلبه دی. پخپله خواکې بل څوک نه مني، دنورو دختمولو کوشش کوي، موږ اعلان کوو اوټول ولس ته ددې تضمین کوو چې انتخابات دې وشي، منتخبه شورا دې جوړه شي، دې منتخبې شوراچې په چاهم اعتمادوکړ موږ دهغه حکومت منو، موږ نه غواړوچې په تنظیمونو دې وزارتونه وویشل شي، په انتصابي شوراګانوسره زمونږ مشکل نشي حل کیدلای، که په لویې جرګې باندې مشکل حل کیدلای دادې نجیب به خپل مشکلات وړاندې حل کړي وو.

نجیب هم پرون لویه جرګه جوړه کړه، دلویو جرګوپه جوړولو زمونږ مشکلات نه حل کیږي، تاسو عملاً ولیدل چې دادوهم ځل دی چې نجیب لویه جرګه رابلله خوماته ووایاست چې نجیب دافغانستان کومه مسئله په دې لویو جرګوحل کړای شوه. په لویو جرګوزمونږمسایل نه حل کیږي، لویه جرګه یعنې دیموکراسي، دیوتنظیم یادڅوتنظیمونو دخوښې کسانو راغونډول.

پرته له دې نه چې له ملت نه پوښتنه وشي، پرته له دې چې له مهاجراومجاهدنه له هغه نه چې دهیوادد آزادۍ لپاره یې قرباني ورکړې، له هغه نه تپوس وشي، دهغه رایې ته مراجعه وشي، دڅومحدودوکسانوپه خوښه به انتصابي کسان له هرځای نه راغونډیږي، دیته به دلویې جرګې یادلوپانو دجرګې نوم ورکول کیږي بیا به هغه دراتلونکي حکومت په باب فیصله کوي، داسې لویه جرګه خوآبله ورځ په راولپنډۍ کې دائره شوه!! آیادې لویې جرګې زمونږ مشکل حل کړو؟ پرته له دې چې انتخابات وشي، یوه منتخبه، مقتدره شورا جوړه شي اودغه شورا دټول ملت په نمایندګي راتلونکی حکومت جوړکړي دهیوادلپاره اساسي قانون جوړکړي، له دې نه پرته دافغانستان دمسئلې دحل بله لارنشته مطمئن اوسیږئ چې انشاءالله همداسې به کیږي. موږ به هیچاته ددې اجازه ورنکړو چې هغه دې دخپل خوښې حکومتونه افغانستان ته جوړکړي. دروس اودامریکا فیصلې نوري په افغانستان کې نه چلیږي. روس خپل زور وآزمویلو، هغه چې امریکا ورته ویریدله، اوس ترڅي پوځ یې افغانستان ته ولیږلو، نهه کاله یې خپل زورورآزمویلو خوخپل خوښې حکومتونه یې په افغانستان کې ټینګ نشوای کړای. امریکا هم نشي کولای. امریکا به هم انشاءالله داغلطي نه کوي. دروسانو ناکامه اوترخه تجربه دهغوی لپاره هم کافي ده. افغانستان کې به ستا دخوښې اسلامي حکومت جوړیږي. انتخابات به کیږي. موږ غیرمنتخب حکومتونه نه منو، موږ دپردیو په لاس جوړشوي حکومتونه نه منو، که پاکستان وي که ایران اوکه روس اوامریکا وي دپردیو په لاس جوړشوي حکومتونه نه منو. دحکومت دجوړولو حق ستاسو دی حکومت باید په داخل کې جوړشي اویوه منتخبه شورا یې جوړکړي.

زه ورونو ته اطمینان ورکوم چې انشاءالله په افغانستان کې به زمونږدشهداوآرمان ترسره کیږي، داسلام بیرغ به تاسوویرژړوپه افغانستان کې رګوري چې په ګوټ ګوټ کې ریپاندي وي، دنجیب دحکومت عمر لنډدی. ددغو تبلیغاتونه بایدتشویش اوویره ونلرئ شیطانان چې کومه ویره اوخوف په ولس کې راپیداکوي تبلیغات کوي، ددې باید پروانکړئ، دښمنانوته فقط همدغه پاتې دي چې په مهاجرینو اومجاهدینو کې ویره، یاس خوف اوناامیدي راپیداکړي، هغوی ته نورڅه ندي پاتې ددې تبلیغاتو باید پروانکړئ، باید مطمئن وئ چې ډیرژر به دنجیب حکومت نسکوریږي اودمجاهدینو دخوښې منتخب اسلامي حکومت به جوړیږي.

زماسوال خپلومهاجرورورونوته همدادی چې دجهاد په دې آخروشپوورځوکې چې نورموږ له ساحل نه ډیره کمه فاصله لرو، کښتۍ له ټولو څپواوطوفانونو نه راتیره شوې اوساحل ته نږدې شوې، شپه هم پای ته رسیدلې اوانشاءالله نورلمرپه راختودی، په دغسې لحظاتوکې باید ډیر هوښیاروئ. نه څرګند دښمن وتوانیدای شي چې موږ دوکه کړي اونه ددښمن په خدمت کې دمجاهدتر پردې لاندې دښمن مزدوران چې نه غواړي په افغانستان کې اسلامي حکومت قائم شي، دوی هم باید ونشي توانیدلای چې په تاکې یاس، ویره اوخوف راپیداکړي. باید هغه څیرې وپیژنو چې هغه ددښمن په خدمت کې دي، دښمن اخیستي، داالله سنت دی چې داڅیرې به خدای څرګندوي چاچې ترپرونه پورې دظاهرشاه خبره نشوای کولای، الله نه پریږدي چې داکسان دې پټ پاتې شي. مجاهدته دې وایي چې موږ اسلامي حکومت غواړو، خو هغه په حقیقت کې دظاهرشاه نوکردي

اوس افغانستان هغه دپرون ورځې افغانستان ندې چې روس په هلیکوپترکې ورته ببرک راولي اویا غرب دشاه شجاع په شان څوک په دې ولس تحمیل کړي ، داوخت نور تیرشوي ترڅوچې په افغانستان کې زمونږ دمسلمان ولس په خوښه یواسلامي حکومت نه وي جوړشوي .داجهاد به جاري وي .

اودهغه بیرته راوستل غواړي، هغه خاین اوفاسد چې ملک یې خرڅ کړ، دهیواددروازې یې دروسانو پرمخ خلاصې کړې اودهغه دغلط سیاست په وجه زمونږ یونیم ملیون خلک په قتل ورسیدل، ځیني دمجاهدترنامه لاندې ددې کوشش کوي چې هغه زوړ رژیم بیاپه افغان ولس باندې تحمیل کړي. زه نه پوهیږم چې هغوی ول دومره ساده اواحمق دي، څنګه ګومان کوي چې ظاهرشاه به راشي اوپه افغان ولس به حکومت کوي؟ نجیب چې زورحزب یې درلود، په پوځ کې هغه په روسیه کې تربیه شوي ګڼ شمیر افسران دهغه په څنګ کې ولاړو، یوې مفکورې باندې جوړکړی حزب هم دهغه په څنګ کې، دروس اوټس قرانئ هم دهغه ترشاه روس په خپل ټول توان طاقت دهغه ترشاودریدلو.

هغه حکومت ونشوکولای، ظاهرشاه به څنګه حکومت کوي؟! چې په څوارلس کاله کې څوک

(۸ مخ)

مجاهدین قرارگاه ابوالفضل ولایت غوردرحال تمرین دیده مي شود

تلفات سرسام آوردشمن درولایت بغلان

بغلان : راپورهای واصله از ولایت بغلان حاکیست به تاریخ ۲۵ر۲ر۶۹ مجاهدین دلیرعلاقداری خنجان عملیات پیروزمندانه را بالای قطاراکمالاتي دشمن درمنطقه «تخته سنگ» علاقداری مذکور انجام دادند که درنتیجه یکعراده تانك زرهدار ودوازده عراده موترحامل مهمات طعمه حریق گردید .

همچنان درین عملیات دوازده تن افراددولتی ازبین رفته وچهارتن شان مجروح گردیدند طبق یك خبردیگر به تاریخ ۳ جوزا به اثر انفجاربزرگی درکاروان دشمن درمنطقه پلخمری چندین عراده تانك ووسایط نقلیه دشمن طعمه حریق ویکتعداد نفرات آن هلاك گردیدند .

ضمناً چهارباب هوتل وهشت باب دکان نیز کاملاً تخریب گردیده است .

راپورمی افزاید مجاهدین آن ولایت قوای دشمن مستقردردشت کیلگی راهدف آتش راکت قرارداده چهارعراده وسایط نقلیه دشمن را ازبین بردند .

تفویض مدال حزب اسلامی به برادردکتور انیس احمد

به تاریخ ٤ جوزا۱۳۶۹ طی پروگرام توزیعی مدال حزب اسلامی از طرف کمیته سیاسی به برادردکتور انیس احمداستاد درپوهنتون بین المللی اسلام آباد ورئیس دیپارتمنت مقارنه ادیان درمقردفتر سیاسی حزب مقیم اسلام آباد سپرده شد .

پروگرام باتلاوت آیات چنداز قرآن مجید توسط برادر محمدنسیم آغازگردید بعداً برادر استادکمال هلباوی ، رئیس مطالعات سیاسی بخش افغانستان ، برادر دکتورشریف احمد خطیب به نمایندگي ازاستادان جامعه بین المللی و برادردکتور غیرت «بهیر» مسئول بخش بین المللی کمیته سیاسی حزب اسلامی افغانستان به نمایندگي از حزب اسلامی بالنوبه بیانات ارزنده وعالمانه شان را ارائه نمودند .

برادر غیرت «بهیر» ازخدمات ارزنده وقابل قدردکتورانیس احمدبا دانشجویان دانشگاه اسلامی بین المللی اسلام آبادخصوصاً به مهاجرین افغانی تقدیر وتمجید بعمل آورد ، متقابلتاً برادر دکتورانیس احمد پشتیبانی وحمایت همه جانبه خودرا ازمجاهدین مجدداً اعلان نموده آماده هرنوع کمك وهمکاری بامجاهدین گردید وضمناً ازحسن نظر منسوبین حزب اظهارقدردانی نمود .

دراخیرمدال اعزازی حزب اسلامی که ازطرف کمیسیون سیاسی حزب اسلامي تهیه گردیده بود توسط برادر گل محمد« باسل » مسئول تنظیم اسلامی محصلان افغانی دراسلام آباد به برادردکتور انیس احمدتفویض گردید .

استاد ضمن پذیرش مدال تقدیر، ارزش معنوی آنرا برای خود ارزنده توصیف کرد .

۱۲ تن کارمندان امنیت دولتی کشته و ۳۰ تن دیگر مجروح گردیدند

گزارش واصله ازولایت کندز حاکیست به تاریخ ۱ر۳ر۶۹ مجاهدین جبهه سیدجان شهید در تیوپ ازکارافتاده ستنگر «تایم بم» ساخته وتوسط شخص دستوری به ریاست امنیت دولتی ولایت کندز ارسال نمودند .

بم مذکور طبق پلان قبل ساعت ۱۰ر۱۱ دقیقه قبل ازظهر درمقر معاونیت ریاست خاد انفجارنموده که دراثر آن دوازده تن مامورین امنیت دولتی به شمول دگروال اشرفمعاون رئیس دربخش انحلال ، جگتورن عبدالاحمد ودوتن ازافرادهیئت اعزامی ازکابل ازبین رفته وبه تعداد سی نفردیگر مجروح گردیدند .

همچنان ساختمان بخش معاونیت امنیت دولتی ولایت کندز نیز تخریب گردیده است .

طبق یك خبردیگر مجاهدین یك قطاراکمالاتي دشمن راکه از طرف ولسوالي خواجه غارولایت تخاربطرف کندز درحرکت بودمورد حمله قراردادند که درنتیجه ۱۸ تن افراد دشمن کشته ، ۱۵ تن اسیر وتعداد زیادشان مجروح گردیدند .

همچنان درین عملیات ۳ عراده وسیله نقلیه ، ۱۵ میل کلاشینکوف معه یك میل راکت آرپی جی ۷ به غنیمت مجاهدین درآمد .

دکوډاگي حکومت ۲۷ تنه پوځیان مره اویوهلیکوپتر راوغورځول شو

کابل : په مفو رپوټونوکی چی دکابل ولایت څخه دشهادت اونیزې اداری ته رارسیدلي ویل شوی چی دنومورې ولایت مؤمنواوبهادرومجاهدینودروان کال دغبرگولي په شپږمه نیټه دپولیسوپرپالیوعملیاتو په ترڅ کی دکمونست رژیم شپږعرادې زغروال ټانګونه اویوعراده پوځي نقلیه وسیله له منځه تللي دي . دغوبریالیو بریدنوپه لړکی ددښمن ۱۶ تنه پوځیان وژل شوي اوهمدارنګه یو هلیکوپټر هم دکاریزك په سیمه کی رانسکورشول شویدی .

همداراز دغبرگولي په دوهمه نیټه زمونږ قهرمانومجاهدینو دکوه صافی په سیمه کی دیوه کمین په ترڅ کی ددښمن څلورتنه ژوندي نیول شوي

ددښمن یو هلیکوپتر نسکور شو

کندهار : دکندهارله مجاهد پروره ولایت څخه په رارسیدلورپوټونو کی ویل شوي چي دغبرگولي په دوهمه نیټه دنومورې ولایت زړوروراوموُمنومجاهدینو دخپلو دافع هواوسلو په ذریعه یوهلیکوپټررانسکورکړي .

خبرزیاتوي چي ددغه هلیکوپټر پیلوټ روغ رمټ دمجاهدینو په لاس په اسارت ونیول شو .

دوعراده تانك ویك عراده موتر حامل سلاح ومهمات دشمن به آتش کشیده شد

گزارشات واصله ازمقر قوماندانی لشکرایثارحاکیست که مجاهدین باشهامت لشکرایثاربتاریخ ٤ر۳ر۱۳۶۹ طی عملیات موفقانه دوعراده تانك ویك عراده موتر حامل سلاح ومهمات نظامي دشمن رادرساحه پوسته های دشمن واقع دشت بابوس به آتش کشیده وسرنشینان آن به هلاکت رسیدند .

گزارش می افزاید : دشمن که بخاطر انتقال نعش های کشته افرادخود تلاش میکردبابرخورد شدید مجاهدین روبرو شدونه تنها موفق به انتقال اجسادمرده های سابق نه شده بلکه بابجاگذاشتن چندین کشته دیگر پابه فرارنهاد .

گزارش علاوه میکند : دشمن زبون که تاب مقاومت رویاروی راباماجاهدین ندارد بعدازشکست خویش مراکز مجاهدین لشکرایثار را موردانداخت سلاح های دوربرد قرارداد که به اثراصابت ماین هاوان سه تن ازبرادران مجاهدمازخمي ودوتن دیگر بنام های گل وعبدالرحمن به مقام والای شهادت نایل گردیدند . اناالله وانااليه راجعون

یك دیپو

این دیپوبصورت کامل جوابگوی اکمالات موادغذائی تمام قوای مربوط رژیم درزون شرقی افغانستان باشد .

امابا به آتش کشیدن این دیپو برپیکرلرزان رژیم نجیب مزدور یکباردیگر ضربه بزرگی وارد آمده وکمونستهارابادست وپاچگی زیادی مواجه گردانیده است .

دکمونیست

دمجاهدینواو دگوډاگی رژیم دتوادوم ترمینځ دیوی ښښتي په ترڅ کی دکمونست رژیم پنځه تنه مره او پنځلس کسه ټپیان شول خبرهای لیکي چي په دی ښښته کی دوه کسه مسلمان عسکر له مجاهدینو سره یوځای شول .

دحزب اسلامي افغانستان اعلامیه

تنظیمونو ترنامه لاندي یي په فراه ، لغمان ، لورستان ، اوپروان کي دری ورې جبهې جوړې کړي خوداجبهې په تدریج سره تضعیف اوبالاخره له مینځه ولاړې ، ځینې مشهوراو مؤثرکسان یي دخیریه مؤسساتو له خوا استخدام شول دغوموسساتوداسلام پرضد او مجاهدینوپه خلاف استخدامول . دموُسساتو دامکاناتو نه په استفادې سره ، دوی خپل فعالیتونه په پېښور ، کویټه اواسلام آبادکي تنظیم کړل .

په پاکستان کي یوه خاصه مقتدره ډله له دوی سره مرسته کوي . ځینې کسان یي په (چین) کي روزل شوي په پاکستان کي دغوی دبنځودتنظیم یعني (راوا) ترنامه لاندي خپل ځرگندفعالیتونه شروع کړل .

ددې حزب ځینې ډلې لکه سازا اوسعُزا دکابل دحکومت سره یوځای شوي . دکابل دړژیم په هدایت دمجاهدینوپه جبهاتواودلته په پاکستان کی د دغوډلو ځینو تخریب کارانو انفجارات وکړل دپارټي ځینې کارکنان دکشورکمال په شمول د خپل مینځني اختلاف په وجه دیوبل په لاس په قتل ورسیدل . ددوی له جملې نه ځینې دپاکستاني پولیسو په ذریعه له منفجره موادوسره ونیول شول دغوی په خپلو جرایمواعتراف وکړ، دپېښور په ورستیو پېښوکي اکثره ددغوډله اشتراك لری .

دضابط عبدالحق اختطاف ، دشهیدخطیب ترور دخیریه مؤسساتو په دفاترودشپې لخوا دغلو په شان حمل دهمدی کمونستي ډلې فعالیتونه دي . دوی غواړي دمجاهدینو ترمینځ بدگماني ته لمن ووهي، ددوی داخلي اختلافات تشدیدکړي ، دخیریه مؤسساتو دفعالیت مخه ونیسي، په مهاجرینو کي دویرې اوعدم وا‌ړ حالت راپیداکړي اوغربي ملکونه دمجاهدینو پرخلاف تحریك کړي، ددې احتمال هم شته چي دوی دي داکاروته دغربي هیوادونو دخاصو جاسوسي شبکوپه ایمااواشاره ترسره کوي ، ترڅو دغوی ته له مهاجرینو سره دمرستوبندولوبهانه په لاس ورشي، په ژړه پوري خبره داده چي تراوسه په دغو مؤسساتوچي داړې ولویدلې دهمدې ډلې افرادوکي کارکوي اودمساتنې اوامنیت چارې یي هم ددوی په لاس کي دي ، او دپېښور په دوران کي نه څوك زخمي شوی ، نه چاوژل کړي اونه داړه اچوونکي له مقاومت سره مخامخ شوي .

دپېښول څرنګوالي نه په ډاګه معلومېږي چي داکاروته دهمدې مؤسساتو دکارکوونکو په لاس یادغوی په مرسته ترسره شوي ، تنظیمونوته یکارده چي :

۱ـ دې ډلې ته منسوب کسان ترڅارنې لاندې ونیسي ، مشکوك کسان تجریدکړي .

۲ـ دپېښور په مکله له ناسنجیده اظهاراتو کلکه ډډه وکړي ، دیوبل متهم کولو اوهیچ اخستلولپاره دنورو په خلاف ددروغجنو تبلیغاتو پرځای دپېښور داصل عاملینو دپېژندلو هڅه وکړي .

۳ـ دخپلولیکوپه تنظیم ته پوره پاملرنه وکړي ترڅو له بدنظمی نه په استفادې سره تخریبکاران ، ددولت عمال اودجهاددښمنان ددوی په ډلو کي نلوډونه کړي اوددوی وسل ، او موټرې داسلام ددښمنانو په لاس کي ونه لویږي اوداسلام اومسلمانانوپه خلاف استعمال نشي هغه ډل چي وسل یي په بازارونوکي خرڅېږي ، یې هدفه اوبې دینه مشکوك کسان په خواکي نیسي اودخپل شیطان دخوشحالولو اوداسلام ددښمنانودرضایت لپاره جهادي قوتونه متهموي اوپیښې هغوی ته منسوبوي ، دخپل ملت سره جفاکوي اودخپل ناپوهی اوبی کفایتي ثبوت ورکوي .

دروس اوامریکافیصلی

ترپېښورپورې راغلي، نه پوهېږم چي افغانستان ته دتلوپه څنګه زړه او جرات کوي . افغانستان ته اوس هریزدل ، قوم فروش دتلو جرئت هم نشي کولای . دالله جل شانه خوښه همداده چي دغسې ځیرې ځرګندې شي چي په آینده کي ملت په هغه دوکه نشي . داسې ډیرکسان و چي مونږ وریاندې اعتماد درلودولي نن دنجیب په څنګ کی دی ، نن هغه ته فتواگانې صادروي . ډیرکسان داسې و چي په قوم کي ، قومي ، مذهبي اودیني وجاهت اواعتباریي درلود . ولې دغوی دروسانو په څنګ کي ودریدل دملت په خلاف ، دجهاد په خلاف ، اسلام سره یي دښمني وکړه ، دغسې الله جل شانه غواړي هغه ځیرې هم بربنډې شي، انشا شي، قوم ته ځرګندې شي چي په واقعیت کي دنوروپه خدمت کی دی همیشه یې له اسلام سره دښمني کړې ، کله دانګریزانو په خدمت کي پاتې شوی ، کله دامریکائیانو، کله دروس ، همیشه دظالموناسداحکومتونو په څنګ کي ودریدل الله جل شانه غواړي داځیرې هم ځرگندې شي.

ددې لپاره داجهادطولاني شوی . په مدارمدارېه داځیرې ځرگندیږي ، خولدې نه باید مطمئن وو چي راتلونکي حکومت به اسلامي وي اودمجاهدینو په لاس به جوړیږي ، مونږ له الله جل شانه سره تعهدکړی چي پابه د اسلام تربیرغ لاندې دعزت ژوندکوو پابه داسلام تربیرغ لاندې زمونږ دیني تولیږي . ترڅو چي مونږ داسلام بیرغ نه وي اوچت کړي اودولت په نسبت مومنتخب اسلامي حکومت نه وي جوړکړی ترهغو به خپله وسله په ځمکه نه ږدو . له هغو شهداوسره چي دهمدې هدف اوآرمان لپاره تلل ، په شهادت رسیدل دابه لوی خیانت اوظلم وي چي مونږ داسلامي حکومت نه پرته په بل شي راضي شواووسله پرځمکه کیږدو . انشاء الله زمونږ امیدداوچي حاجي صاحب به هم په کابل کي ددې انقلاب دفتحې اودبرې په جشن کي شرکت کوي خوانشاء الله هغه به په لړکي هم ددې جهادپه فتحې او برې باندې الله جل شانه راضي کوي او دهغوی آرمان به ترسره کیږي . راځئ له خپل خدای سره یوځل بیا تعهدوکړو چي مونږ داجهادداسلام لپاره پیل کړی ، داسلام لپاره موقربانۍ ورکړې ، داسلام لپاره موداهجرتونه ستونزې اوکړاونه ګالل ، داسلامي حکومت نه په بل شي نه راضي کیږو، په افغانستان کي به دمجاهدینو په لاس اسلامي حکومت جوړیږي اوترهغه وخته پوري به مونږ خپل جهادته ادامه ورکوو، پردیوته اجازه نه ورکوو چې زمونږلپاره په بهرکي حکومتونه جوړکړي اودتازشوتو له لاري په افغان ولس دپردیو دخوښې حکومتونه تحمیل شي، مونږ به دخپل ولس په خوښه منتخب اسلامي حکومت جوړوواوترهغه وخته پوري به خپل جهادته ادامه ورکوو.

وآخر دعوانان الحمدلله رب العلمین

موږدغسي مشرانوته ضرورت لرو چي په قوم باداري نه کوي ، دقوم په سرتجارت نکوي خپل قوم نه خرڅوي ، کله په روسانو ،کله په امریکانیانو، بلکي هغه دخپل قوم مخلصانه اوصادقانه خدمت کوي ، مونږ دغسي مشرانو ته ضرورت لرو .

دحضرت عثمان (رض) په مدرسه کي تربیتي غونډه

دروان کال دغبرگولي دمیاشتي په ٥ مه نیټه دحضرت عمرفاروق (رض) دحوزې محصلینودحضرت عثمان (رض) په مدرسه کي یوه اسلامي تربیوي غونډه وکړه چدې غونډه کي چي گن شمیرمهاجرینو، محصلینو، دمدرسوشاگردانو دقومونو مشرانومشوروپیښن ږیروبرخه اخستې وه دقرآن عظیم الشان دځومبارکوآیاتونو په تلاوت پیل شوه .

دغونډې په سرکي لمړی ورورمولوی غیاث الدین خپله عالمانه وینا وکړه اودیوه زده کوونکي داسلامي تربیې په باب یې هراړخیزه معلومات وراندې کړه غونډه پداسې حال کي پای ته ورسیده چي دشعارونو په ترڅ کي دشرق اوغرب گډسازشونه وغندل شوو .

دوعراده وسایط

مین‌ه ‌ ‌ ‌ نکورتوسط مجاهدین برادرانجنیرشاه افضل مسؤل حوزه حضرت عمر(رض) دربین ولسوالي محمدآغه وقلعه ملابهارفرش‌شده‌بود.

ده‌پوسته دشمن درولایت کابل فتح گردید.

کابل:

گزارش هاي رسیده ازولایت کابل حاکي است که مجاهدین قمیشه درسنگرولسوالي شکردره به تاریخ۱۳جوزا۱۳۶۹عملیات‌تکفیربرانداز‌ي‌رابالاي پوسته هاي کمربند امنیتي ولسوالي شکردره انجام دادند درنتیجه ده پوسته دشمن باتمام امکانات آن بدست مجاهدین فتح وتلفات قابل ملاحظه به‌رژیم مزدوروارد‌گردید.

گزارش علاوه مي کند که این عملیات مشترکاً ازطرف‌برادر‌محمدناصر‌امیر‌جهاد‌ولایت کابل و برادر محمد انور قوماندان جمعیت اسلامي ولسوالي شکردره طرح ریزی‌گردیده بود قسمًا جنگ به شدت درمناطق قلعه حکیم یغمان ادامه دارد.

هند

غواړي چي دهند حکومت تبدیل شي اوداسي نوي حکومت بي پر ځاي راشي چي به هغه کي دجنتادل ،کانگریس اونورګوندونه شامل وي خو بهارتیه جنتاچي دهند وانو افراطي گوند دي باید په‌دي کړ کهون ونه‌لري.

سران

باشند.

هکذا ایشان دررابطه باپیوستن کشورمتحد جرمني به ایمان ناتو وتفویض آزادي لیتوانیا اختلاف نظرهاي زيادي دارند.

الجزایر

دځواونیویه‌اوږدوکي دالجزایر دحکومت پرخلاف داخلورمه‌لویه‌مظاهره‌ده‌چي ترسره‌کیږي.

دالجزایر حکومت غواړي چي دروانې عیسوي میاشتي په ۱۲ مه نیټه بحیله خوښه انتخابات‌وکړي‌خودالجزایرخلك‌له‌دغوانتخاباتو سره‌مخالفت کوي.

امریکا

کړي اوامنیت‌شوري‌راي‌ورکولوته‌وړاندي‌کړي‌وه

الایکا دځیلي وینود دفاع لپاره وویل چي امریکا نیول شووعربي سیموته دکمسیون له لیږلو سره موافقه نلري لیکن دیله حاضره ده چي دملگرو ملتونومنشي خاص نماینده هلته ولیږل شي.

هیئت ها

بخاطر استقرارصلح انجام دهد ،پاکستان نیز عکس العمل نیک‌شان خواهد داد ، هند پاکستان رامنحیث یك همسایه صلح جو درخواهد یافت زیرا امکان شعله‌ورشدن آتش جنگ بین دوکشور روي‌مسئله‌کشمیرحتمي‌بنظر‌میرسد.

تنویرخان یکبار دیگربرضرورت تحکیم صلح روي مسئله کشمیرپافشاري نموده مسئله کشمیر رایك نزاع بین‌المللي خواند‌وآرزو‌نمود که هند نباید بخاطرمسئله کشمیرعلیه‌پاکستان دست‌به‌تهاجم بزند.

تبدیلي نام

برادرظریف مسکونه ولسوال سیدآبادولایت وردگ ومیدان شاگردصنف ششم مدرسه سعدبن معاذاسم خویش را به اظهارالحق تبدیل نموده است موصوف ازدوستان واقارب خویش خواهشمنداست تاوی را به اسم آخیرش بشناسند .

که چاته پته وي

څوارلس کلن ځلمي محمد عبدالله دکل آغا ځوی دکنړولایت د خاص کنړ دولسوالي دکاریزدکلي اوسیدونکي د ۱۳۶۸ کال دحوت له پنځمي نیټې راهیسې بې درکه شوي .

که چاته یې دي مهرباني دي وکړي په لاندې ادرس دي مونږ‌ته خبراکړي

په پېښوربازارد‌گوړي‌منډي

ملنان‌حاجي بامدي‌ته دي‌وسپاري .

دسیاسي چارود ریاست اعلامیه

بسم الله الرحمن الرحیم

امریکاموئیددیته نه پرېږدی چي خپل تیول توان طاقت ، دړژیم پرزولو ته توجیه کړو. هغه زمونږ په داخل اموروکي لاس وهنی کوي ، غواړي دروسانو ځای ځای دوی ولد کړي ، دمجاهدینوپه لیکوکي دلاس پوځونودراپیداکولواودهغوی دتقوې اوپه افغان ولس کي هغوی ته دکاذب شهرت ورکولوهڅه کوي زمونږ مؤمن اوهوښیارمجاهدین باید لدی مرموزې جبهې نه چي دجهادترمقدس نامه لاندي دمجاهدینو اوداسلام په خلاف پرانستل کیږي غافل نوی . که په خپل وخت کي دامریکا دمزدوروډلو مقابله ونکړواودپردیوډګو لپاره لگیاشانتي ځیرې رسوانکړو اوهغه ني په کلکه ونه نیسو کیدای شی داجبهه دروس دمزدورکمونست حزب په شان مونږته دمصیبتونو اوفتنو باعث شي .

هره هغه ډله اوهرهغه افغان چي دامریکا په لاس کي وی او امریکا ورته شهرت ورکوی ، باید افغان ولس له هغه نه څه ټاکل شوي توقع ولري اودغه ولري په نظر ورته وګوري ، روسي نجیب اوامریکائي نجیب بایدپوشانته وګوري هرهغه څوك چي روس اوامریکائي زمونږ په ولس تپي هغه به دپردیو گوډاگي اوداسلام او افغان ولس دښمن وي .

بایدپردیوته موقع ورنکړوچي مونږته قیادتونه جوړکړي ، راتلونکي مشرتابه اوزعامت به دخپل ایمان په حکم اودخپلو دولس کلنو جهادي تجربوپه رڼاکي ټاکو تیول دنیاته به داخبره ثابتوو چي افغان مجاهداومسلمان ولس به له یوه منتخب اسلامي حکومت نه پرته په بل څه راضي نشي .

ترڅوچي ئي دپردیوډلاس وهنوټول امکانات اواحتمالات نه وي ختم کړي اویوکامل اسلامي نظام ئي دداسې زعامت سره نه وي جوړکړي چي دملت په درداوغم کي شریك وي دپردیو دغلامي نه کرکه اونفرت لري اوپه جهادکي ئي فعاله ونډه اخستې وي ، وسله به په ځمکه نه ږدي اومورچل به نه پرېږدي .

که زمونږ دزړورومجاهدینو همداعزم وو، په الله (ج) ئی بروسه وه ، اودالله (ج) په لارکي دشهادت مرگ ئې دذلت ترژوند غوره گڼلو ددنیا هیڅ طاقت دوی ته نه ماتې ورکولای شي اونه دخپل خوښې نظام وریاندې تحمیلولای شي .

آنانیکه برای کسب رضاي یهودونصاری ملت خویش رامحکوم می‌نمایند ، اصلاً ایمان درقلب شان هرگز راه نیافته است